## اې د مصر چارواکو؛ له امته غلا کړې قدرت مو ونه غولوي!





(ژباړه)

**خبر:**

د ۲۰۱۷ د جولای په ۳مه "اکسټرا نیوز" شبکې په یوه بېړني خبر کې وویل، چې ولسمشر السیسي ویلي: «د مصر د حکومت رهبري د ترهګرۍ پر وړاندې په مبارزه کې یوازې نه ده او د مصر ټول ملت د دغې پدیدې پر وړاندې مبارزه کوي.»

**تبصره:**

د مصر ولسمشر پر دیني انقلاب یا هم په سپینه مانۍ کې د خپل بادار پر غرور اتکا کړې، په یاد حالت راضي نه دی، په ګمراهۍ کې دومره ژور تللی، چې غواړي د مصر خلک د اسلام او هغو دعوتګرو پر وړاندې چې خلک د خلافت بیا تاسیس ته را بولي، سره یو ځای کړي؛ هغه هم په داسې وخت کې چې اسلام یې د ترهګرۍ برنامه او دعوتګران یې ترهګر ښودلي دي.

د مصر ولسمشر د خپل غربي لیډلوري له مخې، اسلام د ترهګرۍ مفکوره او اسلامي افکار یې زموږ د اسلامي خاورې مصالحو ته یوازینی خطر بللی. یاد فکر یې د غیر مذهبي انقلاب په مرسته اعلان کړ او په دې هڅه کې دی چې د خپلو ملاتړو او د الازهر علماوو په ګډون له ټولو شته وسایلو او امکاناتو څخه د اسلام پر ضد کار واخلي او پر اسلام باندې برید ګرو ته لاره هواره کړي تر څو وکولی شي پر اسلام تور ولګوي او پر څېړه یې خاورې وشیندي. دی غواړي د مصر اوسېدونکي په هغه جګړه کې چې د اسلام او دعوتګرو پر ضد یې روانه کړې، له ځان سره ودروي او ګومان کوي چې د مصر خلک به یې د غوښتنو پیروي وکړي.

په حقیقت کې د السیسي د ظلمونو، کړاونو، وینې تویونې او په اور کې د خلکو د سوځولو پر وړاندې د مصر د خلکو چوپتیا، دی غولولی او مغرور کړی دی، خو له دې ناخبره دی چې د مصر خلک مسلمان دي او د اسلام تر سیوري لاندې یې ژوند کړی دی. د دوی له زړونو او ضمیرونو څخه د اسلام لرې کول نه یوازې ستونزمن؛ بلکې ناشوني هم دي. که د مصر د خلکو پرړواندې ظالم او ځپونکی حکومت نه وی او که د دې زمینه مساعده وی چې واقعي سیاسیونو خپل نظرونه په ازاد ډول ورکولی شوی، تر څو د خلکو په زړونو کې یې د بدلون هیلې را ټوکولې وی او واقعي بدیل (د نبوت پر منهج خلافت) یې چې په

ژوند کې بدلون راوړي، درک کړی وی، نو د السیسي غوندې کس به نه و توانېدلی، چې دومره موده حکومت پرې وکړي.

هو! په ډاګه وایو چې د مصر چارواکو د یادې خاورې خلک نه دي پېژندلي او نه دي پوهېدلي چې دوی له اسلام او اسلامي احکامو سره مینه لري. هغه وخت زموږ دا ادعا ثابتېږي چې ځینو کې حکومتونه له منځه ولاړ شي او د غږ اوچتولو لپاره ازاد ډګر رامنځ ته شي، تر څو خلک په ښکاره د زړونو نا ویل شوې خبرې بیان کړي. په هغه ورځ به ووینو چې دغه خلک به د اسلامي شریعت د پلي کېدو شعارونه ورکوي. هغه څه چې په رښتیا یې غرب اندیښمن کړی او غواړي چې په چټکی د یادې زمینې د جوړېدو مخه ونیسي او د واقعي اسلام او د هر هغه شخص پر ځېره چې دعوت لېږدوي، خاورې شیندي او ککړوي یې.

نو ځکه دی اسلام ترهګري بولي او دعوتګران زندانونو ته لېږي، دوی او کورنی یې په شهادت رسوي. سره له دې چې د مصر چارواکي په یاده خاوره کې د انقلاب د رامنځته کېدو مخه د زور، ډار او فشار له لارې نیسي، په یوه مړی ډوډۍ یې بوختوي او د هغه څه له درک څخه، چې د اصلي بدیل یعنې خلافت د ملاتړ زمینه ورته برابروي، لرې ساتي، منحرفوي یې او له سترګو یې پنا کوي. د مصر خلک د مبارک له وخت څخه، چې پر ضد یې راپورته شول، تېر شوي او السیسي له هغه څخه هم بد بولي؛ خو څه یې چې د انقلاب د ځنډ لامل کېږي، هغه امریکا ده.

**اې ولسمشره السیسي!** کوم قدرت دې چې له امت څخه غلا او چور کړی، و دې نه غولوي. کله دې چې یاد قدرت له لاسه ورکړ، نور به نه ته او نه دې باداران په امن کې وئ. ډېر ژر به امت هغه څه چې ترې غلا کړي مو دي، درنه واخلي او ډېر ژر به امت خپل قدرت او قیادت بیرته تر لاسه کړي. ستاسو له شر څخه د امت د ژغورني زېری هره شېبه د امت ور ټکوي. هغه کسان چې د اسلام او دعوتګرانو پر ضد یې را پارو، هېڅکله به دې غوښتنې ته ځواب ونه وایي. همدغه خلک به ډېر ژر د جګړې نیزه ستا، ستا د هم کتارانو او د مانۍ د بادارانو پر لور ونیسي. همدغو خلکو ستا د له منځه وړلو او راپرځولو لپاره د دعا لاس پورته کړي، دا څرګند واقعیت دی چې مسلمانان او غیر مسلمانان دې د ظلم په اور کې سوځولي او کباب کړي دي.

**او تاسو اې د کناني خلکو!** دا دی ستاسو ولسمشر او دا ده د هغه اسلام ضد مفکوره، هغه تاسو د خپلو ورونو او اولادونو پر ضد را پاروي، هغه غواړي ستاسو د ژوند په غلا کولو ستاسو دین فاسد کړي؛ نو د فساد غوښتنې غږ ته یې غوږ مه نیسئ او زړه مه ورته ښه کوئ، هغو دعوتګرو ته لاس ورکړئ چې خیر او صلاح مو غواړي، شپه او ورځ مو د دین او دنیا د صلاح په موخه د خلافت په مرسته د اسلام د پلي کېدو هڅې کوي. دا دعوتګران د حزب التحریر ځوانان دي. نو د دین او دنیا د صلاح په موخه مو له هغوی سره مرسته وکړئ، له هغوی او دعوت څخه یې ملاتړ وکړئ. رهبري مو هغوی ته وسپارئ، دوی له تاسو سره صادق او ښه لارښوونکي دي؛ داسې لارښوونکي چې هېڅکله هم دروغ نه درته وایي او نه مو ذلیلوي. له ټولو مهمه دا چې، همدوی دي چې تاسو ته واقعي او د تطبیق وړ برنامې وړاندې کوي.

**او تاسو اې د مصر په اردو کې د امت بچیانو!** ایا په تاسو کې داسې پوه خلک چې اسلام او اهل ته یې مرسته ورکړي، نشته؟ ایا په تاسو کې داسې پوه کسان نشته، چې د الله سبحانه وتعالی لپاره یې غضب را وپارېږي، په مصر کې د مزدورانو او خاینانو رېښې له بیخه وباسي او حاکمیت او قدرت چې یو امانت دی، په حزب التحریر کې د امت مخلصو بچیانو ته وسپاري، تر څو یې په مرسته د نبوت پر منهج خلافت راولي؟ داسې خلافت چې د غرب رېښې، تروریستي فعالیتونه او د نفوذ لمن یې زموږ له خاورو څخه ورټوله کړي او هغه کربنې چې امت یې سره وېشلی دی له منځه یوسي؛ هغه څه یې چې زموږ له پانګو

غلا کړي بیرته راوګرځوي او امت هغه عزت او سرلوړی ته چې په نړی کې یې درلود، ور وګرځوي. ایا په تاسو داسې څوک نه پیدا کېږي، چې د الله سبحانه و تعالی بشپړ دین ته نصرت ورکړي؛ تر څو د هغو خاینانو ربښې، چې هره ورځ یې لاسونه د مصر د خلکو پر وینو ککړ دي او تل ورسره چل او مکر کوي، له منځه یوسي؟ ایا په تاسو کې داسې نران نشته، چې د امت غلاکړل شوې شتمني له دغو خاینو او لوټمارانو څخه واخلي او د امت عزت او کرامت بیرته راوګرځوي؟

د کنانې خلکو ته د اسلام له لیږد او د خلافت له لارې یې له پلي کولو پرته د ژغورنې بله لار نشته؛ که له اسلام څخه پرته بل څه پر تاسو حاکمیت وکړي، د یادو ګوډاګیانو په څېر، ان له هغوی څخه بد به یو په بل پسې پر تاسو حاکمیت وکړي. نو تاسو د خلافت په مرسته د اسلام په پلي کېدو کې سابقون شئ، تاسو د خلافت د بیرغونو (لواء او رایه) رپوونکي او اوچتونکي شئ. د الله سبحانه و تعالی فضل پر هغه چا دی چې په خپلو لاسونو کې د خلافت بیرغونه رپوي او د قیامت پر ورځ به دوی ته زېری وي. هغه څه مو چې تاسو ته وویل ډېر ژر به یې یاد کړئ، موږ یې کار او پایله الله سبحانه و تعالی ته وسپارله.

**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ)** [انفال: ۲۴]

*اې ایمان راوړونکو! د الله او د هغه بلنې ته لبیک ووایئ چې پیغمبر کله تاسې ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي، چې تاسې ته ژوند ښونکی دی او وپوهېږئ چې الله د انسان او د هغه د زړه تر منځ حایل دی او د همغه لوري ته به ورغونډ کړای شئ.*

**لیکوال: عبدالله عبدالرحمن**
**د حزب التحریر-ولایه مصر مطبوعاتي دفتر لپاره**
**د ۱۴۳۸هـ.ق، د شوال۱۷مه**
**د ۲۰۱۷م، د جولای ۱۱مه**